## قانون او د قانون ماتونې لاملونه

قانون د ټولنې او بشريت (انسانيت) ستره او لويه اړتيا ده، لکه څرنګه چې انسان ټولنېز مخلوق پيدا شوی دی او په ټولنه کې ترټاکلو قواعدو لاندې ژوند کوي؛ نو ځکه قانون ته اړتيا لري. قانون د انسان د فطري او طبيعي اړتياو له جملې څخه دی. قانون ته د بشر اړتيا يوازې نن ورځ نه ده احساس شوي، بلکې انسان د پېدا ايښت له ورځې بيا تر قيامته پورې قانون ته اړتيا لري، ترڅو خپل ژوند ته سمون ورکړي د ادم (ع) څخه تر حضرت محمد (ص) پورې د ټولو پيغمبرانو بعثت هم د انسان په ژوند کې د قانون د اړتيا يو بل دليل دی اسماني اديانو په پېړيو پېړيو د انسان د ژوند مختلفو اړخونو ته سازمان او جوړښت بخښلی دی چې د انساني او بشري حقوقو د پراختيا سبب ګرځېدلی دی. همدا قانون دی چې د انسانانو کړنو ته منظمه بڼه ورکوي او انساني اعمال او کړنې چوکاټ ته اچوي. هغه ټولنه چې ترټاکلي نظم او قوانينو لاندې ژوند کوي، هغه د پرمختګ لوړو پوړيو ته رسېدلې ده. قوانين له يوې خوا د وګړو حقوق او مکلفيتونه ټاکي او له بلې خوا د سياسي واکمنۍ دندې او مسؤليتونه په ګوته کوي. د قوانينو په اړه څېړنه او لوستنه د هرې ټولنې له پاره اړين ګڼل کېږي، خو په ځانګړې ډول د افغاني ټولنې له پاره ببخي اړين ګڼل کېږي؛ ځکه په دې ټولنه کې قوانين په سمه توګه نه پلي کېږي او خلک هم د قوانينو سره دومره بلدتيا نه لري. که په افغانستان کې د قانون په اړه عامه پوهاوی زيات شي، نو به له يوې خوا د وګړو دندې او مسؤليتونه خلکو ته وروپېژندل شي او له بلې خوا به د غيري قانوني کړنو مخه نيول شوې وي. دا چې په پښتو ژبه کې د قوانينو د پېژندنې په اړه علمي مواد نشته او په دې برخه کې لويه تشه موجوده ده، له همدې امله زموږ هېوادوال د قوانينو په اړه په پوهېدنې کې له ستونزو سره مخ دي.

د قانون تعريف: د قانون د کليمې اساس او بنسټ د يوناني کليمي (Canon) څخه اخيستل شوې ده چې د قاعدې په مانا استعمالېږي، او همدارنګه د روم په حقوقو کې د قانون پرځای (Lex) وروسته د فرانسې په حقوقي اصطلاحاتو کې ورته (Loi)چې د لوستلو په مانا د تفسير شوې ده. يعنې (Lex) يا (Lio) عبارت د هغه حقوقي مقررې څخه ده چې ليکل شوې وي او د لوستلو وړ وي. قانون د ډېرو ماناو ترڅنګ د قاعدې او ترتيب مانا هم لري او قانون د لفظي نظره د مقياس او اندازه کولو په مانا سره تعريف شوي چې جمع يې قوانين. د قانون کلمه په عام مفهوم سره د کار قاعدې ته وايي چې په ټولو علومو او اړخونو باندې او هم په ټولو شيانو باندې عالم او حاکم وي. قانون په ځانګړي مفهوم سره د ټولنېز ژوندانه دستور دی چې د باصلاحيته مقام لخوا د عرف او عاداتو په اعتبار سره د حق او ناحق، سزا او جزا د نيک او بد د تشخيص په اړوند د اجرايوې ضمانت په واسطه مقدر او بيانېږي چې موخه يې د ټولنېز نظم د وګړو او دولتي مقاماتو د بې مورده او بې ځايه لاسوهنو څخه مخنيوی دی.

د قانون اصطلاحي تعريف عبارت دی د هغه مقرراتو او احکامو څخه چې د دولت او ملي شورا د مجلس له خوا د سمونونو او د ټولنېزو چارو د اداره کولو په موخه نافذ ېږي. ولې نن ورځ په زياترو ټولنو او ملتونو کې قانون د هغه حقوقي قاعدې څخه عبارت دی، چې د يوه هېواد د باصلاحيته غړو لخوا وضع او په دوامداره توګه په ټولو باندې د پلي کيدو وړ ګرځي. يا په بل عبارت قانون د خلکو د ارادي څخه عبارت دی .

قانون هغه صريح او الزامي امر دی چې د واکمنو چارواکو يا مقاماتو لخوا وضع او تدوين شوې وي، هدف او منظور يې د ټولنې د راتلونکي ښه والي او لارښوونه وي. يا قانون يو حقوقي تفکر دی چې د ټولنې په منځ کې د حاکم (واکمن) اراده د استازي په واسطه بيانيږي. نو ويلای شو چې قانون د حق د رسمي اعلان او د هغه د عقلي بيان څخه عبارت دی.

پر پورتنيو پېژندنو سربيره قانون په لاندې ماناوو سره هم کارول کيږي: الف: قانون هغه حقوقي قاعدې ته ويل کيږي؛ چې د اجرایوي ضمانت درلودونکي وي. ب: قانون هغه حقوقي قاعدې ته ويل کيږي، چې عام يا خاص وي او د مقننه قوې لخوا وضع شوي وي.

هغه تصويبنامې چې د اړتيا په وخت کې د اجرايه قوې په واسطه وضع کيږي د قانون مانا نه ورکوي. په همدې ډول ويل کيږي چې تصويب نامه د قانون نسخه کوونکې نشي کېدای.

د قانون ډولونه: قانون د خپل ماهيت په لحاظ بېلابېل ډولونه لري، موږ ددې ډولونو لنډه يادونه په لاندې ډول کوو: قانون په ټوليز ډول پر دوو ډولونو ويشل شوی دی: ۱ – الهي قانون ۲ – بشري قانون.

۱ – الهي قانون: د هغه قانون څخه عبارت دی چې د هغه حقيقت او ماهيت په الهي شريعت او وحې پورې اړه لري، په دې مانا چې الهي قانون د وحې او الهي شريعت څخه اخيستل شوی دی. يا دا قانون د کائيناتو د خالق، مالک، رازق، رب له لوري د انساني ښېګنو او لارښوونو له پاره په پيغمبرانو نازليږي، هغه ټوليز احکامات دي چې د دغه قانون منونکې ټولنې په امير، فقير، زورور يو شان تطبيقيږي؛ که هغه دولت، امامت وي که جمهوريت يا شاهي نظام، دا چې لوی خدای (ج) د ټولو کائيناتو له حالاتو د پيل څخه تر انجامه خبر او اګاه دی او لوي واکمن دی نو سماوي قانون يوازې د بشريت د ښه ژوند او د ژوند د پيژندلو مطلب ځان پيژندنه د مخلوق پيژندنه ده.

۲ – بشري قانون: بشري قانون له هغه قانون څخه عبارت دی، چې بشر يې د ټولنې د ادارې له پاره وضع کوي، يا بشري قانون هغه اصول او مقرارت دي چې بشر يې د خپل ژوندانه د امورو د تنظيم له پاره وضع کوي، چې بشر د خپل عقل په مرسته دا قانون وضع کوي، بشري قانون په خپل وار سره پر دوو برخو ويشل شوی دی: ۱ – اساسي قانون ۲ – عادي قانون.

الف: اساسي قانون: اساسي قانون د هغه موضوعه او مدونو قواعدو، مقرارتو او نورمونو له مجموعې څخه عبارت دی چې د ټولنې د لارښودو قواعدو په سر کې قرار لري او موخه يې د دولت د عامه او امرو تنظيم او د هغه تشکيل کوونکې عناصر دي بالاخره د خلکو په حقوقو، ازاديو، مکلفيتونو او وجايبو باندې حاکميت لري.

ب: عادي قانون: عادي قوانين له هغه قواعدو او مقرارتو څخه عبارت دي يا هغه احکام او لارښوونې دي چې د اساسي قانون څخه يې الهام اخيستي وي. هر هېواد د خپلو وګړو د حقوقو د ساتنې لاه پاره قوانين وضع کوي، دا قوانين يوازې د همدغه دولت په قلمرو او حاکميت لاندې سېمه کې د پلي کيدو صلاحيت لري. د يوه هېواد په قلمرو او حدودو کې د بل هېواد (بهرني) قانون نه شي پلي کيدای، خو په ځينو ځانګړو حالاتو کې هېوادونه د هغه افرادو د امورو د تنظيم له پاره چې د يو بل هېواد تابعيت ولري.

خو افغان ګوند مډليست او مشهور ليکوال زاهد احمدزي په خپل کتاب (ادارې قانون او بنستونه) کې بشري قانون په دريو ډولونو ويشلی دی: ۱ – اساسي قانون ۲ – مدني قانون ۳ – ادارې قانون.

نور ډولونه يې په لاندې ډوله دي:

۱ – د تړونونو ( قراردادونو ) قانون :(Contract law) د بس د يو ټکټ څخه نيولې د سوداګرۍ د ډېرو لويو او پيچلو اړيکو او راکړو ورکړو پورې د څارنې دنده پر غاړه لري.

۲ – د مالکيت قانون :(Property law) په دې قانون کې وګړو ته د ملکيتونو د انتقال په اړه حقوق او مسؤليتونه ورپېژندل کېږي.

۳ – د ټرسټ قانون :(Trust law) د هغو شتمنيو له پاره چې په پانګه اچونه کې کارول کېږي، قوانين وړاندې کوي او مالي امنيت هم تر غور لاندې نېسي.

۴ – د ټورټ قانون :(Tort law) که چېرې د يو کس حقوقو او ملکيت ته زيان ورسېږي، او د غه زيان جرم وګڼل شي، د ضرر د جبران له پاره قوانين وړاندې کېږي.

۵ – د جزا قانون :(Criminal law) د مجرم د محاکمه کولو له پاره لارې چارې بيانوي.

۶ – اساسي قانون :(Constitutional law) د قانون د جوړولو له پاره يوه سرچينه، د بشري حقوقو د خوندي کولو او د خلکو د استازو د ټاکلو له پاره يو لارښود دي.

۷ – اداري قانون :(Administrative law) د حکومتي ادارو پر پرېکړو د څارنې قوانين وړاندې کوي.

۸ – نړيوال قانون :(International law) د خپلواکو هېوادونو ترمنځ اړيکې او راشه درشه تنظيموي، چې په دې کې سوداګري، د چاپيريال ساتنې په هلکه قوانين، نظامي خوځښتونه او داسې نور شامل دي.

قانون او قانون ماتونه په افغانستان کې:

په نړۍ کې هيڅ داسې ملت او ټولنه نشته چې په ټولنه کې د ژوند د چارو د تنظيمولو لپاره اصول او قوانين ونه لري، په هر ځای او هرملت کې قانون يوه دايره ده او که هر چا له ټاکلې دايرې د وتلو هڅه وکړه سرغړونکی مجرم دی او قانون يې نقض کړی. د نړۍ په هر ګوټ کې مختلف دولتونه د ملتونو لپاره د خپلو دوديزو او ملي ارزښتونو او عرفي قواعدو پر اساس قوانين ټاکي او د ملت په مرسته يې تطبيق او پلي کولو لپاره په ګډه مبارزه او کار کوي.

دا چې د دولت له لوري ايجاد شوی قانون په تطبيق کې ملت څومره او څه ډول نقش لري؟ دلته دوه خبرې دي. لمړی دا چې ملتونه سره تيت شوي دي او د هر هېواد ملت په بېلا بېلو ټولنو، قومونو او افرادو ويشل شوی، چې د دغې ويش پر بنسټ د هرې سيمې د خلکو د ژوند سطحه سره توپير لري، دوهمه خبره دا ده چې د ملتونو تېر ته ځير کيدل او د همدغو ملتونو د پرمختګ او په شاه تګ تعقيبول او د ښې نتيجې لاسته راوړلو وروسته يې د ملت له افرادو د قواعدو پرپلي کيدا کې توقع ساتل دي.

دا طبعي خبره ده چې قانون لومړی بايد په ځان پلی او وروسته په افرادو پلی شي. خو په داسې يوې ټولنه کې چې له څو لسيزو زياته جګړه په کې شوې وي او لا هم پکې د جګړې اور بشپړ ډول نه وي وژل شوی، د قانون په پلي کولو کې له ملت څخه د دولت مسوولیت څو برابره زيات دی.

د افرادو له خوا د قانون ماتونې فرهنګ په هره ټولنه کې شته؛ خو که کیسه دا ډول وی چې قانون د قانون جوړونکو له خوا ماتیږی دا ډول بدې پېښې ته به کوم ډول رنګ ورکړو، په هېواد کې معاصر قانون د واکمن نظام لخوا په 1382 ل کال کې د لويې جرګې له ډېرو بحثونو وروسته په دولسو فصلونو او دوشپیته مادو کې جوړ او د ولسمشر له خوا تصویب شو، همدغه قانون چې څه موده وړاندې يې د لس کلن مزل کلیزه هم ولمانځل شوه، د جوړېدو له ورځې نيولې بيا تر اوسه پورې له بل هر چا نه هغه چا ډېر نقض او مات کړی چې هم يې جوړ کړی او هم يې د تطبیق مسوولیت په غاړه لري.

قانون جوړونکي تر بل هر چا په دې ښه پوهیږي، چې قانون ماتونه جرم او بیا د اساسي قانون ماتول لوی جرم دی، نو دې به هغه چا ته څنګه او څه ډول قناعت ورکړي چې هغه شخص د دولت ملکیت غصبوي او طبیعي شتمني د شخصي ګټې لپاره کاروي.

د دې ولسواکې ټولنې د دولت د دري واړو څواکونو ( اجرایه ، مقننه ، قضایه ) په تیرو لسو کلونو کې په هغه کچه قانون تر پښنو لاندې کړ او لا يې هم په پوره قوت تر پښنو لاندې کوي چې ملت يې لسمه برخه هم نه دی لاندې کړی.

د هیواد په ختیځ کې د دولت هغه ملکیتونه چې اوسمهال د چارواکو، زورواکو او عوامو لخوا غصب شوي، آتیا سلنه يې د ملي شورا وکیلانو او شل سلنه يې سیمه ایزو زورواکو او ولسونو لاندې کړي دي، همدارنګه د هېواد په شمال کې د قانون ماتونې ګراف وګورو، د لال او یاقوتو، لاجوردو او نورو قیمتي ډبرو د کانونو په غیر قانوني کیندنه کې د ولسي او مشرانو جرګې وکیلان، والیان، امنیه قومندانان او سیمه ایز زورواکان ښکیل دي.

د قانون ماتونې لاملونه:

۱ - د حکومتي چارواکو له خوا د قانون په سمه ډول نه مراعاتول. ۲ - د موجوده قوانینو په اړوند د پوهې کموالی. ۳ - د قوانینو او مقرارتو مبهموالی. ۴ - په قوانینو باندې د جدي څارنې پیکوالی. ۵ - د ټولنې د واقعیتونو د اخلاقو سره د قوانینو نه مطابقت. ۶ - له قانون څخه تېښته. ۷ - کورنۍ جګړې او ملک الطوايفي. ۸ - واسطه او سوی استفاده. ۹ - د سترمحکمي او لوی څارنوالۍ نه پاملرنه او کمزوري. ۱۰ - په ټولیزه توګه د هېوادوالو ترمنځ د مسؤلیت د احساس نه شتون. ۱۱ - حکومت او ملت ترمنځ واټن. ۱۲ - د حکومت په دننه کې خپل سري حکومتونه ( زورواکان....)

حل لارې :

۱ - د قوانینو جوړولو پروخت د ټولنې مذهبي، فرهنګي او اخلاقي اړخونه او د وخت شرایط په نظر کې نیول.

۲ - په څرګنده او روښانه توګه د قوانینو جوړول .

۳ - د قوانینو په اړه د مختلفو لارو د وګړو له پاره عامه پوهاوی.

۴ - د قوانینو جوړولو څخه وروسته د نظر پوښتنې له پاره ټولنې یا هېوادوالو ته وړاندې کول.

۵ - په قوانینو کې مبهموالی په سم ډول سره تحلیل او تفسیر شي.

۶ - ټول دولتي، ملکي، نظامي او رعیت د قانون پروړاندې د مسؤلیت احساس ولري.

۷ - په ټولو وګړو باندې د قوانینو یوشان پلي کول.

۸ – قوانینو ته د اجرائیوي قوې درناوي او په پلي کولو کې یې جدي او سیدل، د دې ترڅنګ د قانون څخه د سرغړونکو سره نه همدردي.

۹ – په قانون باندې د ښار له پاره بې لوري، تخصصي او مسلکي کمیسون جوړول، ترڅو وکولی شي چې پرته له هغې دغې نه جدي ښارنه پرې وکړي.

۱۰ – د قوانینو په پلي کولو کې د ستري محکمې او لوی ښارنوالۍ په راس کې د ور، پاکو، خپلواکو، قوانینو ته د ژمنو او جدي کسانو ګمارل، ترڅو وکولی شي د مکافاتو او مجزاتو اصل په سم ډول سره پلی کړي.